# پیاوړی کس - په غېږ نیولو کې - چېه کوونکی ندی، بلکې پیاوړی هغه دی چې د غصې پر مهال خپل ځان کنټرول کړي

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «پیاوړی کس - په غېږ نیولو کې - چېه کوونکی ندی، بلکې پیاوړی هغه دی چې د غصې پر مهال خپل ځان کنټرول کړي».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې اصلي ځواک د بدن ځواکمني نده او نه هغه ځواکمن دی چې نور قوي کسان راچپه کړي، بلکې غښتلی او پیاوړی - انسان - هغه ځوک دی چې د خپل نفس په وړاندې مبارزه وکړي او د سختې غصې په وخت کې یې کنټرول کړي، ځکه چې دا د دې په خپل ځان د پوره ځواک او په شیطان د غالبېدو دلیل دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5351